AFGHAN GERMAN ONLINE
http://www.afghan-german.com
http://www.afghan-german.de
افغان جرمن آنلاین
مسؤولیت محتوی، استعمال کلمات و جملات بدوش نویسندۀ مطلب میباشد

آصف بهاند ۲۰۱۶/۱۲/۲۰

# لاروړکي لارویان

## دویمه برخه

### ماسکو ته زما سفر او په تاشکند کې تم کېدل:

د ۱۹۹۱ کال وروستۍ شپې ورځې وې، زه په خپلو ورځنیو کارونو بوخت وم، خو ور سره یو څه ستړی. دا وخت لطیف لالا (ډاکتر لطیف بهاند) په ماسکو کې په لوړو زده کړو بوخت و، کله، کله د تیلیفون له لارې یو د بل له احواله خبرېدو. یوه ورځ زما له خولې و وتل:

لالا زه ډېر ستړی یم.

بس څه وخت لا تیر نه و، چې زما او زما د میرمنې او کوچنیانو په نامه یې بلنلیکونه را ولیږل چې موږ ماسکو ته تفریحي سفر وکړو. ما خپلې میرمنې ته و ویل:

زه به لومړی لاړشم، حالات به وګورم، که ګزاره کیده بیا به تاسو راشئ.

ما په ژوند کې تیروتنې کړي، خو یوه لویه اشتباه مې همدا وه چې کورنۍ مې له ځان سره بونه تله. په رښو سترګو مې کتل چې ډاکتر نجیب استعفا ورکړه او حکومت یې د سقوط په حال کې و، پر وطن باندې د تورو کارغانو سیل را ماتیدونکی و او زه ماسکو ته وخوځېدم.

ماسکو ته د تګ په لار کې څو شپې په تاشکند کې تم شوم. په تاشکند کې له ګډ روسي ـ ازبکي کلتور سره مخامخ شوم. ځوانانو هڅه کوله چې روسي کلتور پسې ولاړ شي، خو لږ څه د پاخه سن خلک په دې هڅه کې وو چې پخوانی ازبکي کلتورلکه: خواړه، پوشاک، مړی ژوندی... بیرته را ژوندی او تعقیب کړی، روسي کلتور چې پخوا ورباندې تپل شوی و، ایسته وغورځوي.

له شوروي جغ نه په نوې را خلاصه شوې ازبکي ټولنه کې د ایراني شیعه آخوندانو فعالیت او جدي مذهبي هڅې او فعالیتونه په ځرګنده توګه احساسیدل. ازبکان خپله دومره نه پرې پوهیدل، خو له یوې مذهبي ټولنې نه، ما غوندې راغلي کسان ښه ور باندې پوهیدل. ایراني آخوندانو هڅه کوله چې نوې آزاده شوې ازبکي ټولنه او نوي آزاد شوي ازبکان، د ایراني ډوله شیعه مذهب په کړۍ کې را ایسارکړي.

تاشکند چې د ازبکستان پلازمینه ده، په کې د ښار او کلي یو ګډ غوندې ژوند لیدل کیده. عام خلک یې میلمه پال او مینه ناک دي. د پخواني شوروي اتحاد د پلان له مخې تاشکند ښار په نوي او عصري بڼه جوړشوی دی. د نوي او متمدن ژوند پرخوا، د حرکت نسبي امکانات موجود وو او حرکت یې هم محسوس و. د عصري ترانسپورت لکه: میترو، ښاري بسونه، ښاري ګاډي (ترام وای) او نور ډول ډول ترانسپوتونه په فعالیت لګیا وو.

د شوروي اتحاد له ړنګیدو سره سم، په ازبکي ټولنه کې شوروي ضد افکارو یوځل بیا سر را پورته کړي و. د سوسیالستي او کمونستي افکارو پ رضد یو څه غږ او ځوږ اوریدل کیده؛ خو ځوان نسل د کمونستي او اسلامي افکارو دومره پروا نه ساتله او د مطلقې آزادۍ پلویان وو؛ خو دولتي رهبري د شوروي د کمونست ګوند د غړو په واک کې وه.

شوروي ضد افکارو دومره چټک عکس العمل وښود چې په هماغو لومړنیو ورځو کې یې د ښار په عمومي پارک کې د لینن په لویه مجسمه کې پړی واچاوه او پړمخې یې را نسکوره کړه.

د عامو خلکو خوراک ترکاري، لبنیات، له پخواني شوروي اتحاد نه په میراث پاتې سړې غوښې (کالباسه) دي؛ خو تر ټولو زیات ازبکان له وړو څخه جوړ منتو او آش ډوله خواړه خوښوي؛ ده مدې له پاره ډېری افغانان ټوکتاً ازبکانوته «خمیر خورک» ویلې.

له دغومره امکاناتو سره، سره؛ د تاشکند په ډېرو سیمو کې د کلیوالي ژوند نښې نښانې له ورایه تر سترګو کیدې. د لوی واټ په منځ کې چې د تاشکند مرکزته ور غځیدلی دی، ګلان او کبلې کرل شوي، ازبک ماما په څلوېښت درجو ګرمۍ کې چپن اغوستې، ملایې کلکه په ګل سیب دسمال تړلې، روسۍ کلوشې په پښو د ګلانو په اړخ کې غوا پیایي. دغسې نور مثالونه.


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولـئ

د۱۹۹۲ کال اپریل و چې له تاشکند څخه په ریل ګاډي کې د ماسکو په لوري وخوځیدم. له تاشکند څخه تر ماسکو پورې په ریل ګاډي کې درې شپې درې ورځې لارده. په ریل کې دا زما لومړنی سفرو. هر څه را ته جالب وو. د کابل په پرتله، د تاشکند شینوالی او د قزاقستان د دښتو پراخوالی او...

د قزاقستان په دښتو کې ریل ګاډی لکه قهرجن ښامار مخ پروړاندې روان و. زما فکر لا د قزاقستان په دښتو کې سرګردانه ګرځیده چې د راډیو له څپو څخه دا خبر خپور شو:

«د نجیب دولت سقوط وکړ. مجاهدین کابل ته ننوتل او ډاکتر نجیب د ملګرو ملتونو په دفتر کې پناه واخیسته.»

نور مې نو فکر د قزاقستان له دښتو بیرته کابل ته ستون شو او هلته لکه لیونی په کوڅو سر او منډې یې وهلې چې څه کیږي.

په کابل باندې له هرې خوا، په پاکستان او ایران کې د جوړو شوو تنظیمونو د زهرو سیلاو، ور مات شوی و. نور نو د هر چا سر، مال او حتی ناموس په خطر کې و. تاریخ یو ځل بیا تکرار شو. بیا سقاوي دوره راغله. کټ مټ د سقاوي دورې په شان هر چا ته چې هر شی په لاس ور تله د غنیمت په نامه یې تالا کول، حتی دروازې او کړکۍ هم په غنیمت کې لاړې.

د خندا وړ خو لا دا ده چې کوم ټوپک وال اوریدلي و چې د یوتیلیفون بیه څو لکه افغانۍ ده. له دې قیمت څخه مطلب د تیلیفون امر یا امتیازو، نه د تیلیفون ماشین. دې د غنیمت د امتیاز خاوند ټوپکوال له کوم کوریا دفترنه څو تیلیفونونه په اصطلاح په غنیمت کې تر لاسه کړي وو؛ د آسمایي واټ په کوم دکان کې یې دواړه پښې دکاندارته په یوه موزه ننه ایستې وې چې دا تیلیفونونه به په درې یا څلورلکه افغانیو اخلې؛ په داسې حال کې چې د تیلیفون د ماشین بیه له دوو سوو نه تردرې سوو افغانیو پورې وه.

په دې ډول کابل د خپل تاریخ په اوږدو کې تر ټولو ستر ناورین او آزمویني سره مخ شو. په هیڅ صرفه نه کیده. نه په مال، نه په ناموس، نه په عزت او نه په...

ناهید د دې له پاره د «ملي قهرمان؟» له ټوپکیانونه ځان لوګی کړ چې ټوپکیان او د هغوی قهرمان؟ له نظره نه شي.

هر چا چې ټوپک درلود، هر څه یې کولای شول. ارګ یې په غنیمت کې شمیره. وزارتونه، بانکونه ،حتی واټونه، ناحیې او کوڅې و ویشل شوې. ښار په څو واکداریو او باچاهیو و ویشل شو. بیا نو دښمنیو د تنظیمي رهبرانو او ټوپکیانو تر منځ له لویو سیاسي، مذهبي، ملي، ژبنیو، سیمه ایزو، شخصي او سلیقوي تضادونو نه نیولې، تر کلیوالي او کورنیو تضادونو پورې غځونې وکړې او د یو «ځانځاني ښامار» په ډول یې سر را پورته کړ، د خلکو او ټولنې افکار په سل ګونو کلونو پخوانیو زړو ایدیالوژیو او افکارو باندې ولړل شول، وطن یې کنډواله او زموږ د زرګونو هیوادوالو سرونه یې وخوړل؛ خو بیا هم د ټوپکي مشرانو زړونه یخ نه شول. یادګاري څلي په سنګرونو تبدیل شول، خپل قوم او خپله ژبه هر چا ته بلا شوه او...

زه چې دا وخت ماسکو ته رسیدلی وم، هره ورځ مې رنځ ګاله، هره ورځ مې په میډیا کې لیدل او اوریدل چې زما ځالې، زما کلي زما کور، زما وطن ته د اورسیلاو راغلی دی او زما کور کلی ګودر، زما ښار او زما خلک په دې نا روا بل کړای شوي اور کې سوځي. په ټول کابل باندې د تنظیمي جګړو او تورو افکارو، تور څادرغوړیدلی و.

په همدې شپو ورځو کې د سیاف جان؟ ا ومزاري جان؟ د جګړو ډګر کابل پوهنتون، دهبوري او میرویس میدان و. زما کورنۍ هم کابل پوهنتون ته ور څیرمه په دهبوري کې ژوند کاوه. د هرې ورځې په تیریدو سره، جګړه نوره هم تودیدله او ما به لکه زوړ دیوال، ځان په خپله خوړ. لطیف لالا هم تشویش کاوه، خو زما غمجن حالت، د ده وضعه نوره هم خرابوله.

د پسرلي موسم و، د ماسکو طبیعت په کش کې و، هر څه په وده او شنه کیدو کې وو؛ خو زما پر وطن داسې ناورین راغلی و، چې هر څه په سوځیدو او مړه کیدو کې وو. د همدې غمجنو ورځو د یوې ورځې مازدیګری و، له کړکۍ نه مې د باندې د طبیعت ننداره کوله، سترګې مې د طبیعت په ښکلا خښې وې، خو خیال مې دکابل په سپیرو ډاګونو او کنډوالو کې ګرځیده را ګرځیده، چې خدای تعالی مې د خاطر تسلا په دغو تورو وکړه:

پریږده

پریږده چې خپله مینه هیره کړمه

پریږده چې خپل ژوندون ته شاکړمه نور

پریږده چې زه خپلو غمونو

او دردونو سره لوبې وکړم


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولـئ

پریږده چي و وینم د خپلو ګناهونو سیوری

نه څمه بیا

نه ړدمه بیا

خپل قدمونه د ثواب پر لاري

پریږده چي یوسمه د خپلو ګناهونو پیتی

پریږده چي و زغمم د خپلو ګناهونو عذاب

پریږده چي غم په زړه دننه تیر کړم

پریږده ایرو لاندي خپل عمر هیرکړم

پریږده چي وشکوم په خپلو داړو خپلي غوښي

پریږده چي وخورمه دغم سکروټي

پریږده چي ځان لکه زاړه دیوال په خپله وخورم

پریږده چي ځان لکه غمی په پنجره کي ګیر کړم

پریږده چي وګورم د خپلو ګناهونو عکس

پریږده چي یوسمه د خپلو ګناهونو پیتی

نه خمه بیا

نه ړدمه بیا

خپل قدمونه د ثواب پر لاري ...

۱۳۷۱/۰۲/۱۸

ماسکو

روسیه

په همداسي یو غمجن حالت کي، یوه ورځ لطیف لالا را ته و ویل:
«په دي غمونو او تشویش څه نه کیږي. ته داسي چل وکړه چي کابل ته ولاړ شه، خپل او زما بچیان در سره کړه، که په کابل کي د ویزي د ترلاسه کولو امکانات وو، مخامخ له کابل نه را والوزئ او که نه کیده، نو له کابل نه په بل لوري و وزئ، بیا به دي خوا ته د راتګ غم کوو، د کابل او کابلیانو دي خدای مل شي او...»
زه کابل ته روان شوم. په تاشکند کي آریانا الوتکي ته په ختلو سره مي پام د الوتکي کار کوونکو ځان ته ور واړاوه. په الوتکه کي باید کارکوونکي پاک، ښکلي او د ښي سلیقي خاوندان اوسي؛ خو د آریانا کارکونکي نا منظمي او وار خطا وي. تیکري پر سر، زیر رنګونه او الوتي بڼي یي درلودلي. ما په لاس کي دوه بکسونه درلودل، خولي را باندي را ماتي وي او زوروونه مي وهل، د الوتکي یوي کارکونکي میرمني مرسته را سره وکړه او په ترخ کي یي را ته و ویل:
«او بیادر جان! ای ره چي مي کني، اي چیز ها بلای جانت میشه، کابل او کابل نیس...»


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزې بڼي پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکي په ځیر و لولئ

ما څه ونه ويل، کيناستم، سترګو ته مي کورنۍ او کابل وړاندې وروسته کيدل. په دې کي غږوشو: کمر بندونه وتړئ چي الوتکه کيني او...

کابل ته په رسيدو سره مي وليدل چي په ډير لږ وخت کي د ښار بڼه او خلک بدل شوي وو، ما تر دې ورځي «مجاهد؟» نه وليدلی، په دغي ورځي وې وليد، ليدل يي را ته جالب و. په هوايي ډګ رکي مسؤلين ټول ږيره ور وو، ما ويل څه رژيم بدل شوی، دا ږيره ور به ټول مجاهدين وي. له ترمينله و وتم ، کټل مي ټول وطن پشماپشم و.

له بده مرغه زموږ خلک له تمدن سره ځان ژر نه بدلوي، خو له دغسي منفي بدلونونو سره ډيرژر بدليږي. ما وليدل چي په خلکو کی بدلون منفي اړخ درلود، ځای پر په ځای دريدل او په ښت تګ خو څه کوي، اوس مخ په ښکته روانيدل پيل شوي وو.

د تمدن ټول مظاهر يوې خوا ته اينسودل شوي وو او د سل ګونو کلونو مخکي رسم او رواج په ټولنه باندې مسلط شوی و. کو رته لاړم، کورنۍ مي ډيره خوشحاله شوه. ما ته د نوي رژيم د تلويزيون نشرات او خبرې ډيرې په زړه پورې وې، ځکه تينګ ور ته ناست وم.

د خپروني په پيل کي يي و ويل چي په دغومره بجو د دفاع ښاغلی؟ وزير له القابوسره، احمدشاه مسعود بيانيه ورکوي.

ما د دې مبارک؟ څيره هم لا نه وه ليدلي او خبرې مي يي لا نه وې اوريدلي. په ټاکلي وخت د دفاع د ښاغلي؟ وزير څيره را ښکاره شوه. پکول پر سر باندې کوږ اينبی، چپن پراوږو، عربي دستمال پرې د پاسه غوړيدلی او...

په خبرو يي چي پيل وکړ، نور هم ور ته ځير شوم چي دا مبارک؟ څه وايي. دی دومره پوچ او بې مانا غږيده چي هيڅ خبره يي د دفاع وزير يا کوم مشر ته نه پاتي کيده، هيڅ ډول کشش او جذابيت يي په خبرو کي نه و، د کلي په لهجه يي خبرې کولې، تا به ويل کوم بيسواده شپون يا نا لوستی بزګرغږيږي.

«تر تو لو بد وخت هغه دی چي نا پوهان اپلتي وايي او پوهان غلي ناست وي.»

«سيدجمالالدين افغان»

د دويمي برخي برخي پای


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکني د ليکنيزې بني پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکي په ځير و لولئ